# فرښته صِفَّت

## څنګه جوړ شو؟

22-December-2022



هفته وراه د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې کیدونکے

د سُنَّتو ډك بیان

(For Islamic Brothers)

په 22 دسمبر کال 2022ء د پاکستان په هفته وارو اجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# فرښته صِفَّت څنګ جوړ شو؟

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- ---فرښتې او د عِلمِ دین شوق
- ---د فرښتو 4 مسئلې
- ---د فرښتو د پیدائش مقصد
- ---فرښتې د لمونځ د پاره راپاځوي
- ---فرښتې د نیکۍ دعوت ورکوي

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ (اسلامِک ریسرچ سنټر)

(شعبه بیاناتِ دعوتِ اسلامي)

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الۡمُرۡسَلِيۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ ط بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيۡكَ يَا رَسُوۡلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ يَا حَبِيۡبَ الله
اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيۡكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ يَا نُوۡرَ الله

نَوَيۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِكَافِ (**ترجمه:** ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

په 22 سيپاره سورۀ اَحزاب، آيت نمبر 56 کښې الله پاک فرمائي:

اِنَّ اللّٰهَ وَمَلٰٓىٕكَتَهٗ يُصَلُّوۡنَ عَلَى النَّبِيِّ ؕ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا صَلُّوۡا عَلَيۡهِ وَسَلِّمُوۡا تَسۡلِيۡمًا ﴿۵۶﴾
(پاره:22، سورۀ احزاب:56)

ترجَمۀ کنزُ العرفان: بے شکه الله او د هغه فرښتې په نبي باندې دُرُود ليږي- اے ايمان والوٗ! تاسو هم په هغه باندې دُرُود او ډير سلام اوليږئ-

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** په دې آيت شريف کښې اووئيلے شو چې الله پاک هم په خپل خوږ او محبوب نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې دُرُود شريف ليږي او فرښتې هم په هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې دُرُود ليږي-

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ! فرښتې په خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې درود ليږي، د دې سره سره د مختلفو فرښتو د درودِ پاک په باره کښې مختلفې ذِمَّه واريٗ هم دي مثلاً ❁ په دُنيا کښې چې کله هم، چرته هم څوک عاشقِ رسول، د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غلام درودِ پاک لولي نو فرښتې په هغه باندې هم درود ليږي ❁ څه فرښتې هغه دي چې کله د زيارت وړځ راځي نو هغوئي د سرو زرو قلم او د سپينو زرو کاغذ راواخلي او راکوزې شي، په دغه وخت چې کوم عاشقِ رسول په هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې درود شريف لولي، فرښتې د هغه درود ليکي [(1)] ❁ د حديثِ پاک مطابق 2 فرښتې هغه دي، د کومو چې الله پاک ذِمه واري لګولې ده چې په دنيا

[1]... کنزالعمال، کتاب: الاذکار، جزء:1، جلد:1، صفحه:250، حديث:2174 -

کښې کله هم، چرته هم څوک عاشقِ رسول درود پاک لولي نو فرښتې هغه ته دُعا کوي: الله پاک دې تا اوبخښي [1] ❁ څه فرښتې هغه دي، د کومو چې ذمه واري ده چې هغوئي په زمکه باندې ګرځي راګرځي، کله چې هم څوک عاشقِ رسول په درودِ پاک لوستلو اوويني نو د هغه درود شريف بارګاهِ رسالت ته رسوي [2] ❁ حضرت کعب رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: يو سحر داسې نه راځي چې په هغې کښې 70 زره فرښتې نه راکوزيږي [يعني په هر يو سحر کښې 70 زره فرښتې راکوزيږي] او د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د انوارو نه د ډکې روضې په خوا کښې راجمع کيږي، د خوشحالئ نه خپلې وَزَرې خوزوي او تر ماښامه پورې په هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې درودِ پاک ليږي، کله چې ماښام شي نو دا فرښتې واپس لاړې شي، بيا دومره فرښتې نورې راشي، هغه تر سحره پورې په بارګاهِ رسالت کښې درودِ پاک عرض کوي- [3]

سيّدي اعلىٰ حضرت، امامِ اهلسُنَّت رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ په حدائقِ بخشش کښې فرمائي:

سَتّر ہزار صبح ہیں، سَتّر ہزار شام
یُوں بندگیِ زُلف و رُخ آٹھوں پہر کی ہے

جو ایک بار آئے دوبارہ نہ آئیں گے
رُخصَت ہی بار گاہ سے بس اس قدر کی ہے

مَعصُوموں کو ہے عُمر میں صرف ایکبار بَار
عاصی پَڑے رہیں تو صَلا عُمر بھر کی ہے [4]

**وضاحت:** زمونږه د آقا او مولىٰ، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دا شان دے چې 70 زره فرښتې سحر او 70 زره فرښتې ماښام حاضريږي او د درودِ پاک نذرانې وړاندې کوي، د رسالت د شان کمال ته اوګورئ چې کومې فرښتې يو ځل حاضرې شوې، اوس به بيا تر قيامته پورې د هغوئي نمبر نه راځي- دا فرښتې دي، کومو ته چې صِرف يو ځل په بارګاهِ رسالت کښې د حاضرئ اجازت نصيب کيږي او په مونږه غلامانو باندې څومره کرم دے؟ که څوک يو ځل راځي، که اوغواړي زر ځله راځي، که اوغواړي ټول ژوند د مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په در باندې پروت وي، هيڅ منع نشته-

**اے عاشقانِ رَسُول!** دا فرښتې دي، کومې چې د الله پاک په خوږ محبوب نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې د درودونو اميلونه شيندي، کاش! مونږه غلامان هم همت اوکړو، په خپل آقا او مولىٰ، مکي مدني مصطفٰے

---

[1]... معجم کبیر، جلد:2، صفحہ:218، حدیث:2687 -
[2]... نسائی، کتاب:السھو، باب:السلام علی النبی صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَآلِہٖ وَسَلَّم، صفحہ:219، حدیث:1279-
[3]... سنن الدارمی، باب:ما اکرم اللہ تعالیٰ نبیہ، صفحہ:59، حدیث:95ملتقطاً-
[4]... حدائقِ بخشش، صفحہ:220-221ملتقطاً-

صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې ښه ډېر زيات درود شريف اولولو- اللّٰه پاک دې مونږ له د عمل کولو توفيق را کړي-

آمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.

ذِکر و درود ہر گھڑی وِردِ زَباں رہے | میری فُضُول گوئی کی عادَت نکال دو![1]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

په حديثِ پاک کښې دي: اَلنِّيَّةُ الْحَسَنَةُ تُدْخِلُ صَاحِبَهَا الْجَنَّةَ ښه نيت بنده جنت ته بوځي-[2]

**اے عاشقانِ رَسُول!** ښه ښه نيتونه بنده جنّت ته رسوي، د بيان اوريدلو نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونه اوکړئ: مَثَلاً نِيَّت اوکړئ چې ۞ د اللّٰه پاک د رضا د پاره به بيان اورم. ۞ د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت به بااَدبه کښينم ۞ ښه په توجو سره به بيان اورم ۞ څه چې اورم، د هغې به د يادولو، په هغې باندې به پخپله د عمل کولو او نورو ته د رسولو کوشش کووم-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## فرښتې او د عِلمِ دين شوق

علّامه عمر بن احمد آفندي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د قصيده بُرده شريف په شرح کښې ليکي: څه فرښتو د 1000 کالو نه په څه عِلمي مسئلو کښې بحث کولو خو د هغوئي دا مسئلې نه حل کيدلې، بيا چې کله خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دُنيا ته تشريف راوړو نو فرښتو ته پته اولګيده چې دا هغه هستي ده څوک چې به زمونږه عِلمي مسئلې حل کړي، نو هم دغسې فرښتو په ډيرې عاجزئ سره دُعا اوکړه، اللّٰه پاک د هغوئي دعا قبوله کړله او خوږ آقا، د مدينې والا مصطفٰے صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ئې معراج له اوبللو-

اوس د دې نه پس څه اوشول: په دې باره کښې زمونږه د آقا او مولیٰ محمد مصطفٰے صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک واورئ! سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: ما خپل رَبِّ کريم په ښکلې صورت

---

[1]...وسائلِ بخشش، صفحہ:305۔
[2]...مسند فِردَوس، جلد:4، صفحہ:305، حدیث:6895۔

کښې اولیدلو، الله پاک اوفرمائیل: اے محبوبه (صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم)! فرښتې په کومو مسئلو کښې بحث کوي؟ ما عرض اوکړو: یا الله پاکه! 4 مسئلې دي، فرښتې هغه نشي حل کولے، الله پاک اوفرمائیل: اے خوږه محبوبه صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! هغوئي رښتیا اووئیل- اوس الله پاک فرښتو ته اوفرمائیل: یَا مَلَائِکَتِیْ! وَجَدْتُّمْ حَلَّالَ الْمُشْکِلَات اے زما فرښتو! تاسو سختو حل کولو والا بیاموندلے دے، فَاسْئَلُوْا اَشْکَالَکُمْ یعني هغه مسئلې کومې چې تاسو نشئ حل کولے، نن زما د محبوب صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه د هغه مسئلو پوښتنه اوکړئ--!!

## د فرښتو 4 مسئلې

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د فرښتو هغه 4 مسئلې څه وې په کومو کښې چې هغوئي د 1000 کالو نه غور او فِکر کولو؟ په حدیثِ پاک کښې دي: کله چې الله پاک فرښتو ته اوفرمائیل چې اے فرښتو! نن زما د محبوب صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه د خپلو مسئلو پوښتنه اوکړئ نو د ټولو نه وړومبے حضرت اسرافیل عَلَیْهِ السَّلَام عرض اوکړلو: مَا الْکَفَّارَاتُ یعني (یا رسولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم !) کَفّارات (د ګناهونو ختموونکي څیزونه) څه دي؟ خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: (1) په سخت وخت (یعني چې کله اودس کول ګران ښکاري، مثلاً ډیره یخني وي، هغه وخت) پوره اودس کول (2): د جَمعې سره د لمونځ کولو د پاره پیدل تلل (3): او د یو لمونځ نه پس د بَل لمونځ انتظار کول-

اوس حضرت میکائیل عَلَیْهِ السَّلَام دویمه مسئله عرض کړله: وَمَا الدَّرَجَاتُ (یَا رسولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم!) د درجو اوچتولو والا عملونه څه دي؟ رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: **(1):** اِطْعَامُ الطَّعَامِ په نورو باندې خوړل **(2):** وَ اِفْشَاءُ السَّلَامِ سلام عام کول **(3):** وَ الصَّلَاۃُ بِاللَّیْلِ وَالنَّاسُ نِیَام د شپې چې کله خلق اوده وي، هغه وخت لمونځ کول- (د دې دریو کارونو کولو والا درجې اوچتې دي)-

د فرښتو دوه مسئلې حل شوې، اوس حضرت جبریلِ امین عَلَیْهِ السَّلَام دریمه مسئله وړاندې کړله: وَمَا الْمُنْجِیَاتُ (یَا رسولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم!) نجات ورکوونکي څیزونه څه دي؟ محبوبِ رَبّ، سلطانِ عرب صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: **(1):** خَشْیَۃُ اللّٰهِ فِی السِّرِّ وَ الْعَلَانِیَۃِ ځانله او د ټولو په مخکښې (په هر حال کښې) د الله پاک نه ویریدل **(2):** وَ الْقَصْدُ فِی الْفَقْرِ وَ الْغِنٰی په تنګئ او آسانئ، غریبئ او مالدارئ (یعني په هر حال کښې) اعتدال اختیارول **(3):** وَالْعَدْلُ فِی الْغَضَبِ وَالرِّضٰی یعني که د غصې حالت وي او که د خوشحالئ کیفیت (په هر حال کښې) انصاف قائِم ساتل-

دا درې مسئلې حل شوې، اوس حضرت عزرائیل عَلَیْهِ السَّلَام عرض اوکړلو: وَمَا الْمُهْلِکَاتُ (یَا رسولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم!)

په هلاکت کښې غورځوونکې څيزونه څه دي؟ اوئې فرمائيل: (1): شُحٌّ مُطَاعٌ شومتوب د کوم چې پيروي اوکړے شي (2): وَهَوًى مُتَّبَعٌ خواهش د کوم چې تابعداري اوکړے شي (3): وَاِعْجَابُ الْمَرْءِ بِنَفْسِهٖ او د بنده خپل ځان ښتونے ګنړل (يعني د ځان خوښئ ښکار کيدل)- (1)

سُبْحٰنَ الله! خومره ښکلے شان دے زمونږه د آقا او مولیٰ، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم --!! فرښتو چې د 1000 کالو نه په کومو مسئلو کښې بحث کولو، هغوئي ته د هغه مسئلو حل نه ميلاويدو، رسولِ خُدا، احمدِ مجتبیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په منټونو کښې هغه مسئلې حل کړلې-

مشکل جو سر پہ آپڑی، تیرے ہی نام سے ٹلی | مشکل کشا ہے تیرا نام، تم پر درود اور سلام

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## کاش! د عِلمِ دين شوق ميلاؤ شي

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! غور اوکړئ! فرښتو به د عِلمِ دين خومره شوق لرلو- د 1000 کالو پورې فرښتو په عِلمي مسئلو کښې غور او فِکر او په خپل مينځ کښې بحث کولو-

افسوس! زمونږه د ښه نه د ښه موبائل اخستو شوق دے ۞ د فيس بُک (***Facebook***) شوق دے ۞ په يوټيوب (***You Tube***) باندې د وخت تباه کولو شوق دے ۞ د مشهوريدو شوق دے ۞ د فضول سيل سپاټو شوق دے ۞ او پته نه لګي چې څنګه څنګه شوق مونږ کوؤ ۞ کاش! چې زمونږه د عِلمِ دين شوق نصيب شي-

## د فرښتو نصيحت

د عِلمِ دين په شوق لرونکو عظيمو صحابهٔ کرامو کښې د عظيم صحابئ رسول حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے، د الله پاک آخِري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: د هر ګس په دروازه باندې 2 فرښتې مقررې وي، کله چې هغه د کور نه ووځي نو فرښتې وائي: **عالِم جوړ شه يا طالِبِ عِلم جوړ شه--!! دريم مه جوړيږه-** (2)

---

[1]... ترمذی، کتاب تفسیر القرآن، صفحہ:747، حدیث:3234بتغیر قلیل۔
قصیدۃ البردۃ مع شرحہا عَصِیْدَۃُ الشُّہْدَہ، صفحہ:236-237ملتقطاً۔
[2]... کنزالعمال، کتاب:العلم، جز:10، جلد:5، صفحہ:73، حدیث:28868۔

الله پاک دې مونږ له د فرښتو د دې نصيحت قبلولو او په دې باندې د عمل کولو توفيق را کړي-

آمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ.

زندگی ہو مِری پروانے کی صورت یا ربّ! | علم کی شمع سے ہو مجھ کو محبت یا ربّ![1]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب     صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د فرښتو پيژندګلو

**اے عاشقانِ رَسُول!** فرښتې هم د الله پاک مخلوق دے ۞دا د الله پاک فرمانبردارې دي ۞الله پاک هغوئي د نُور نه جوړې کړې دي ۞او هغوئي له ئې دا طاقت ورکړے دے چې هغوئي څنګه شکل اوغواړي جوړولے شي ۞فرښتې قصداً عمداً يا په هيره کله هم د الله پاک نافرماني نه کوي ۞صِرف هغه کوي د څه چې الله پاک دوئي ته حکم اوکړي ۞ټولې فرښتې معصومه دي (يعني د دوئي نه ګناه کيدل شرعاً ممکنه نه ده)، دا د هر قِسمه ورو او غټو ګناهونو نه پاکې دي- [2] ټولې فرښتې څومره دي؟ د دې شميره الله پاک ته معلومه ده يا د الله پاک په عطا سره خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته پته ده- [3] مونږ ته دا حکم دے چې مونږه په ټولو فرښتو ايمان راوړو، يعني زمونږه عقيده دا پکار ده چې څومره فرښتې دي، مونږه په ټولو باندې ايمان راوړو-

## د فرښتو په باره کښې اسلامي عقيدې

په بهارِ شريعت کښې دي: ۞فرښتې نه نارينه دي نه زنانه [4] ۞د يوې فرښتې لګه شان ګستاخي کول هم کُفر دے ۞جاهلان خلق چې خپل څوک دښمن يا داسې ګس اووينې کوم ئې چې خوښ نه وي نو وائي: مَلکُ الموت راغلے، دا جمله کُفر ته نزدې ده ۞د فرښتو د وُجُود نه انکار کول يا دا وئيل چې فرښته د نيکئ طاقت ته وئيلے شي، د دې نه علاوه هيڅ نه ده، دا خبرې کُفر دے- [5]

---

1... کليات اقبال، بانگ درا، حصّہ اوّل، صفحہ:65 -
2... بہارِ شريعت، جلد:1، صفحہ:90، حصہ:1 بتغير قليل۔
3... بہارِ شريعت، جلد:1، صفحہ:94، حصہ:1 بتغير قليل۔
4... بہارِ شريعت، جلد:1، حصہ:اول، صفحہ:93 ۔
5... بہارِ شريعت، جلد:1، صفحہ:95، حصہ:1 بتغير قليل۔

## د فرښتو د پيدائش مقصد

د حضرت عبد الله بن عَمرو بن عاص رضی اللہ عنہ نه روايت دے: خَلَقَ اللّٰهُ الْمَلَائِكَةَ لِعِبَادَتِهٖ يعني الله پاک فرښتې د خپل عبادت د پاره پيدا کړې دي- [(1)]

معلومه شوه: لکه څنګه چې مونږه انسانان او پيريان څکه پيدا کړے شو د پاره د دې چې مونږه د الله پاک عبادت اوکړو، دغه شان فرښتې هم د الله پاک د عبادت د پاره پيدا کړے شوې دي، البته! د بعضې فرښتو په ذمه مختلف کارونه لګولے شي، مثلاً ❁ د څو فرښتو په ذِمه د باران وَرَوَلو کار دے ❁ د څو فرښتو په ذِمه د هوا چلولو ❁ د چا په ذمه بنده ګانو ته رِزق رسول ❁ د چا په ذمه د ذِکر په حلقو کښې حاضِريدل ❁ دغه شان نور هم ډير کارونه دي کومې چې فرښتے کوي-

## د فرښتو د پيدا کولو مختلف انداز

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! ❁ د فرښتو د پيدائش طريقه د انسانانو په شان نه ده ❁ يعني انسان وړومبے ټينګه وينه وي ❁ بيا غوښه جوړيږي ❁ بيا اندامونه پوره کيږي ❁ بيا په ده کښې رُوح اچولے شي، بيا پوره انسان جوړ شي او دُنيا ته راشي ❁ په مزه مزه غټيږي ❁ د فرښتو معامله داسې نه ده ❁ فرښتې الله پاک د کلمهٔ کُن سره پيدا کوي، يعني الله پاک فرمائي: اوشه! نو فرښته پيدا شي او په خپل کار کښې مصروفه شي ❁ د فرښتو پيدائش اوس هم جاري دے او د هغوئي د پيدائش مختلف انداز دے مثلاً ❁ په څلورم آسمان باندې يوه فرښته ده، د کومې نوم چې **روح** دے، دا فرښته هره ورځ 12 زره تسبيحات وائي (يعني د الله پاک پاکي بيانوي)، د دې فرښتې په هرې تسبيح سره يوه فرښته پيدا کيږي [(2)] ❁ په حديث شريف کښې دي: په جنّت کښې يو نهر دے، حضرت جبريلِ امين علیہ السّلام هره ورځ دې نهر ته ځي، بيا چې بهر راشي او وَزَرې اوڅنډي نو د هر څاڅکي نه يوه فرښته پيدا شي- [(3)] ❁ داسې د بنده ګانو په نيک عملونو سره هم فرښتې پيدا کيږي، شيخ مُحيُ الدِّين اِبنِ عربي رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: هر ښه کلام [خبره] او ښه کار فرښته جوړه شي او د آسمان طرف ته اوچته شي- [(4)] ❁ په حديثِ پاک کښې دي: رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صلی اللہ علیہ والہٖ وسلّم اوفرمائيل: کوم بنده چې زما د تعظيم د پاره درودِ

---

[1]... التاریخ الکبیر، جلد:2، صفحہ:10، رقم:1517۔
[2]... تفسیرِ طبری، پارہ:30، سورۂ نباء، زیر آیت:38، جلد:12، صفحہ:415 ملتقطاً۔
[3]... مسندِ فردوس، جلد:5، صفحہ:486، حدیث:8842۔
[4]... الیواقیت والجواہر، المبحث التاسع عشر فی الکلام...الخ، جز:1، صفحہ:151۔

پاک لولي نو الله پاک د دې درودِ پاک نه يوه فرښته پيدا کړي، د دې يو وَزَر په مشرق [لمر خاته] کښې او بَل په مغرب [لمر پريواته] کښې وي، دې فرښتې ته حکم کيږي: لکه څنګه چې بنده زما په نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې درود اولوستلو، ته په دغه بنده باندې درود اولېږه، نو هغه فرښته د قيامت د ورځې پورې په هغه بنده باندې درود لېږي [1] ۞علّامه قرطبي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: کوم بنده چې سورۀ بقره او سورۀ آلِ عمران لولي نو الله پاک د دې په ثواب سره فرښتې جوړوي، کومې چې به د قيامت د ورځې پورې د دې تلاوت کوونکي شفاعت کوي-[2]

معلومه شوه: چې د انسانانو نيک کارونه، نيکې خبرې، د درود شريف لوستلو او تلاوت کولو سره فرښتې پيدا کيږي- کاش! کاش! چې مونږه ډېر زيات درود شريف لوستونکي، صرف او صرف ښه خبرې کوونکي او نيک کارونه کوونکي جوړ شو-

آه! پلّے نہ کچھ تلاوت ہے
نہ دُرُودوں کی کوئی کثرت ہے
آہ!عصیاں کی خُوب کثرت ہے
یانبی! التجائے رحمت ہے
ایسی عصیاں کی پڑگئی لت ہے
پھر وُہی بعدِ توبہ حالت ہے
آنکھ نم ہے نہ کچھ ندامت ہے
آہ! اعمال کی یہ شامت ہے[3]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب　　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د فرښته صِفت جوړېدو دُعا

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** په مونږ کښې او په فرښتو کښې په زرګونو قِسم فرق دے ۞فرښتې د نُور نه جوړې دي او مونږه د خاورې نه ۞فرښتې خوراک څښاک نه کوي او مونږه د خوراک څښاک محتاجه يو ۞ زمونږه ژوند عارضي دے ولې فرښتې به تر قيامته پورې ژوندئ وي- غرض: په مونږ کښې او په فرښتو کښې ډېر زيات فرق دے، البته! په شريعت کښې د دې خبرې ترغيب ورکړے شوے دے چې مونږه د فرښتو مشابهت [يعني د فرښتو په شان شکل] اختيار کړو، د فرښتو والا اخلاق خپل کړو، فرښتې چې کوم کار کوي، که

---

1... اَلْقَوْلُ الْبَدِيْع، صفحہ:121-
2...التذکرہ للقرطبی، صفحہ:317-
3... وسائلِ بخشش، صفحہ:685-

چرې زمونږه په وَس کښې وې نو هغه کارونه اوکړو-

په سورۀ فاتحه کښې مونږه دُعا کوؤ:

| | |
|---|---|
| اِهۡدِنَا الصِّرَاطَ الۡمُسۡتَقِيۡمَ ۙ﴿۵﴾ (پاره:1، سورۀ فاتحه:5) | ترجَمۂ کنزُ الایمان: مونږ په نیغه لار روان کړې- |

دا صِراطِ مستقیم څه دے؟

| | |
|---|---|
| صِرَاطَ الَّذِيۡنَ اَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ ۙ۬ (پاره:1، سورۀ فاتحه:6) | ترجَمۂ کنزُ الایمان: لار د هغه چا په کومو چې تا احسان کړے دے- |

د سُلطَانُ المُفَسِّرِین حضرت عبد الله بن عبّاس رَضِیَ اللہ عَنۡہُ د فرمان مطابق هغه په کومو چې د الله پاک انعام اوشو، په هغوئي کښې فرښتې هم شامِلې دي- (1) لکه مونږه دا دُعا کوؤ: اے الله پاکه! مونږه د فرښتو په لاره باندې روان کړې، د فرښتو والا اَخلاق راله راکړې، د فرښتو والا صِفتونه را عطا کړې! فرښتې ستا فرمانبرداره دي، مونږ له هم د خپل اطاعت او فرمانبردارئ توفیق راکړې، اے کریم رَبَّه! فرښتې د ګناهونو نه معصومه دي، مونږه هم د ګناهونو نه محفوظ کړې-

## د فرښتو په شان صفونه جوړ کړئ!

د قرآنِ کریم یو سُورت دے: سورۀ صَافَّات، د دې مبارک سُورت په وړومبي آیت کښې الله پاک اوفرمائیل:

| | |
|---|---|
| وَالصّٰٓفّٰتِ صَفًّا ۙ﴿۱﴾ (پاره:23 ، سورۀ صَافَّات:1) | ترجَمۂ کنزُ الایمان: د هغوئي قسم چې باقاعده صف جوړ کړي- |

حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللہ عَنۡہُ فرمائي: دلته د صفونو جوړولو والوؤ نه مُراد فرښتې دي- (2) حضرت جابِر بن سَمُره رَضِیَ اللہُ عَـنۡهُ فرمائي: یوه ورځ خوږ آقاء مکي مدني مصطفٰے صَلَّى الله عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشریف راوړو او اوئې فرمائیل: تاسو داسې صَفّ ولې نه جوړوئ لکه څنګه چې فرښتې جوړوي- مونږه عرض اوکړو: يَا رسولَ الله

---

1... تفسیر طبری، پارہ:1، سورۂ فاتحہ، زیرِ آیت:6، جلد:1، صفحہ:106 ـ

2... تفسیرِ خازن، پارہ:23، سورۂ صافات، زیرِ آیت:1، جلد:4، صفحہ:15-

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم! فرښتې څنګه صف جوړوي؟ اوئې فرمائيل: وړومبے مخکښينے صف پوره کوي او ښه يو ځائے اودريږي- (1)

معلومه شوه: چې د فرښتو هغه کارونه کوم چې مونږه هم کولے شو، په هغه کارونو کښې د فرښتو مشابهت اختيارول [يعني د فرښتو په شان کيدل] د شريعت خوښ دي-

## الله پاک بنده فرښته صِفت ليدل خوښوي

په تفسيرِ طِبري کښې دي: د مسلمانانو د دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ معمول مبارک وو چې کله به د جَمعې ورکولو د پاره اودريدلو نو فرمائيل به ئې: صفونه سيدها کړئ! اے فلانکيه ته لږ رامخکښې شه! اے فلانکيه! ته لږ وروستو شه! بيا به ئې فرمائيل: **بے شکه الله پاک تاسو د فرښتو په شان ليدل خوښوي-**(2)

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د دې روايت نه هم معلومه شوه: چې د فرښتو مشابهت اختيارول ښه کار دے، الله پاک دا خوښوي چې مونږه انسانان هم هغه شان کار اوکړو، لکه څنګه چې فرښتې کوي-

## عِلم څنګه ميلاؤيږي؟

امام ابو طالِب مکي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په قُوتُ القُلُوب کښې ليکي: په مخکښينو آسماني کتابونو کښې په يو کتاب کښې دي چې الله پاک اوفرمائيل: اے بني اسرائيلو! دا مه وائيئ چې عِلم په آسمان کښې دے، دا به څوک راکوزوي او راوړي؟ دا مه وائيئ چې عِلم د زمکې د لاندې دے، دا به څوک راوباسي او راوړي؟ بلکه اَلْعِلْمُ مَجْعُولٌ فِىْ قُلُوْبِكُمْ يعني د عِلم مقام [ځائے] خو ستاسو زړه دے، تَاَدَّبُوْا بَيْنَ يَدَىَّ بِآدَابِ الرُّوْحَانِيِّيْنَ وَتَخَلَّقُوْا اِلَىَّ بِاَخْلَاقِ الصِدِّيْقِيْنَ اَظْهَرُ الْعِلْمَ فِىْ قُلُوْبِكُمْ تاسو زما په حُضُور کښې د فرښتو په شان آداب خپل کړئ! د صِدِّقينو په شان اَخلاق خپل کړئ! زه به ستاسو په زړونو کښې د عِلم چينې رواني کړم- (3)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! ۞ عِلمِ دين د هدايت ذريعه ده ۞ عِلمِ دين د ټولو فضيلتونو اَصل دے ۞ عِلمِ دِين د دُنيا او د آخِرت د خيرونو مجموعه ده او دا عِلمِ دِين ميلاؤيږي څنګه؟ چې مونږه د فرښتو والا آداب خپل کړو، د صِدِّقِينو په شان اَخلاق خپل کړو نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! الله پاک به فضل اوکړي او

---

1... تفسير بغوی، پاره:23، سورۂ صافات، زيرِ آيت:1، جلد:3، صفحه:653۔
2... تفسير طبری، پاره:23، سورۂ صافات، زيرِ آيت:166، جلد:10، صفحه:29681 ملتقطًا۔
3... قوت القلوب، الفصل الحادی والثلاثون، کتاب: العلم و تفضيله، جلد:1، صفحه:238۔

زمونږ په زړه کښې به د عِلمِ دِين چينې رواني کړي-

الله پاک دې زمونږه هم دا آداب او اَخلاق او پاک کِردار نصيب کړي-

آمِيْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب          صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د فرښتو د صِفَتونو بيان

خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو! مونږ له پکار دي چې څومره د انسان په وَس کښې وي، هغه همره فرښته صِفت جوړ شو، د فرښتو په شان د کارونو کولو او د فرښتو په شان د آدابو خپلولو پرله پسې کوشش اوکړو- راځئ! د فرښتو يو څو کارونه او آداب اورو:

## (1): فرښتې لمونځ کوي

د فرښتو په پاکو اَخلاقو او عادتونو کښې دي چې فرښتې لمونځ کوي او د الله پاک په حُضُور کښې ډيرې سجدې کوي- په قرآنِ کريم کښې هم د دې ذِکر دے- او زمونږه نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم د دې خبر راکړے دے، په يو حديث شريف کښې دي: **بے شکه په آسمان کښې د 4 ګوتو برابر هم [داسې خالي] ځائے نشته چرته چې يوه نه يوه فرښته تَندے نه کيږدي، د الله پاک په حُضُور کښې سجده نه کوي-** [(1)]

## د فرښتو مؤذِن او امام

خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو! فرښتې لمونځ خو کوي، د هغوئي د لمونځ کولو انداز هم ډير ښکلے دے- د روايتونو مطابق ۞ حضرت اسرافيل عَلَيْهِ السَّلَام د فرښتو مؤذِّن دے، هغوئي 12 ځله په ورځ او 12 ځله په شپه کښې اَذان کوي [(2)] ۞ حضرت ميکائيل عَلَيْهِ السَّلَام او د بعضې روايتونو مطابق حضرت جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَام د فرښتو امامان دي [(3)] ۞ چرته چې زمونږه کعبه شريفه ده، دې ته بالکل سيدها په آسمان کښې د فرښتو قِبله ده، کومې ته چې

---

1...ترمذی، کتاب: الزہد، باب: فی قول النبی لو تعلمون...الخ، صفحہ: 555، حدیث: 2312-
2...حُسْنُ التَّنَبُّه لِمَا وَرَدَ فِي التَّشَبُّه، ومنها: الامامة، جلد: 1، صفحہ: 247-
3...حُسْنُ التَّنَبُّه لِمَا وَرَدَ فِي التَّشَبُّه، ومنها: الامامة، جلد: 1، صفحہ: 247-

بَیتُ المَعمُور وئیلے شي، هلته فرښتې راجَمع کیږي او په یوه ورځ کښې 70 زره فرښتې هلته لمونځ کوي، کومې چې یو ځل لمونځ اوکړي، د هغوئي نمبر بیا کله هم نه راځي [1] ۞ فرښتې صفونه جوړوي، وړومبے مخکښینے صف پوره کوي، بیا وروستو صف شروع کوي، ټولې د یو بَل سره داسې یو ځائے اودریږي چې په مینځ کښې ئې خالي ځائے نه پاتې کیږي [2] ۞ دا 70 زره فرښتې چې په بَیتُ المَعمُور کښې لمونځ اوکړي، کله چې ماښام شي نو دوئي زمکې ته راشي، د کعبې شریفې طواف کوي او بیا-- (سُبْحٰنَ اللہ! ) په بارګاهِ رِسالت کښې حاضریږي، زمونږ د خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې سلام عرض کوي، بیا بیرته لاړې شي- [3]

سُبْحٰنَ اللہ! خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! څومره ښکلے شان دے د فرښتو--!! ۞ فرښتې په بَیتُ المَعمُور کښې د جَمعې سره لمونځ ادا کوي ۞دوئي صفونه جوړوي ۞ وړومبے مخکښینے صف پوره کوي ۞په صفونو کښې یو ځائے ولاړې وي ۞حضرت اسرافیل عَلَیْہِ السَّلَام اذان کوي ۞حضرت مکائیل عَلَیْہِ السَّلَام یا حضرت جبرائیل عَلَیْہِ السَّلَام جَمع ورکوي ۞بیا چې کله فرښتې لمونځ ادا کړي نو څه کوي؟ په بارګاهِ رسالت کښې حاضري کوي او زمونږه د نبي، خوږ نبي، مکي مدني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې سلام عرض کوي-

کاش! چې مونږه هم دا صفتونه خپل کړو، په مونږ باندې هم پینځه لمونځونه فرض دي او دا لمونځونه په جُمات کښې ادا کول واجِب دي- کاش! چې مونږه هم په جُمات کښې د تکبیرِ اُولیٰ سره، په وړومبي صف کښې د جَمعې سره لمونځ ادا کړو، څومره به ښه وي! چې د لمونځ ادا کولو نه پس د درود او سلام لوستلو هم سعادت نصیب شي، بیا خو څومره ښه خبره ده---!!

## د جَمعې سره د لمونځ کولو فضیلتونه

کوم خوش قسمته چې د جَمعې سره لمونځونه کوي، په وړومبي صف کښې د اودریدو کوشش کوي، د لمونځ نه پس لږ وخت کښیني او ذِکر کوي او درود شریف لولي، فرښتې د هغه د پاره د بخښنې دُعاګانې کوي، هم دغسې ۞ د صحابئ رسول حضرت ابو اُمَامه رَضِیَ اللہ عَنْہُ نه روایت دے، سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: بے شکه فرښتې په وړومبي صف (والوؤ) باندې درود لیږي (یعني د هغوئي د پاره د

---

[1] ...حُسْنُ التَّنَبُّه لِمَا وَرَدَفِي التَّشَبُّه، ومنها: الامامة، جلد:1، صفحه:248-
[2] ...حُسْنُ التَّنَبُّه لِمَا وَرَدَفِي التَّشَبُّه، ومنها: اتمام الصف الاول في الصلاة...الخ، جلد:1، صفحه:258-
[3] ...حُسْنُ التَّنَبُّه لِمَا وَرَدَفِي التَّشَبُّه، ومنها: قصد البيت الحرام بالحج...الخ، جلد:1، صفحه:361-

بخښنې دُعاګانې) کوي-[1] ❁ د مسند امام احمد روايت دے، د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: بے شکه چې بنده (د لمونځ نه فارغ شي او) چې تر څو پورې په مُصَلّه باندې ناست وي، فرښتې په هغه باندې درود ليږي او د فرښتو درود دا دے چې هغوئي وائي: اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَهٗ، اَللّٰهُمَّ ارْحَمْهُ اے الله پاکه! دا بنده اوبخښې، په ده باندې رحم اوکړې[2] ❁ رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: څوک چې په ما باندې دُرُود لولي، فرښتې د هغوئي د پاره د بخښنې دعا کوي، اوس د بنده خوښه ده [چې] درود کم لولي او که زيات-[3]

**اے عاشقانِ رَسُول!** اندازه اولګوئ! فرښتې معصومه دي، کله هم ګناه نه کوي، فرښتې د الله پاک اطاعت کوونکې دي، دوئي الله پاک ته نزدې دي، څومره خوش قسمته دے هغه بنده د چا د پاره چې فرښتې د بخښنې دعاګانې کوي، فرښتې د هغه د پاره د رحمت سوالونه کوي- کاش! چې مونږه د فرښتو د دعاګانو اخستلو والا جوړ شو-

آمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

عمل کا ہو جذبہ عطا یاالٰہی! | گُناہوں سے مجھ کو بچا یاالٰہی!
میں پانچوں نمازیں پڑھوں باجماعت | ہو توفیق ایسی عطا یاالٰہی!
میں پڑھتا رہوں سُنّتیں، وقت ہی پر | ہوں سارے نوافِل ادا یاالٰہی![4]

## (2): د فرښتو مختلف عبادتونه

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** مونږه واوريدل! چې په بيتُ المعمور کښې هره ورځ 70 زره فرښتې لمونځ کوي، اوس دا خو 70 زره دي، نورې فرښتې څه کوي؟ هغوئي هم لمونځ کوي- يو ځل د مسلمانانو دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بارګاهِ رسالت ته حاضر شو او د يو منافق د لمونځ نه کولو شکايت ئې اوکړو، په دې باندې رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: په اووه واړو آسمانونو کښې بے شميره فرښتې دي کومې چې لمونځونه کوي- ځکه د الله پاک سره د فلانکي منافق د لمونځونو هيڅ پرواه نشته- حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عرض اوکړو: يَا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! د فرښتو لمونځ څنګه دے؟ په دې باندې رسولِ خُدا، احمدِ

---

[1]...مسند امام احمد، جلد:9، صفحه:198، حديث:22901-
[2]...مسندِ امام احمد، جلد:1، صفحه:399، حديث:1232-
[3]...ابنِ ماجه، کتاب: اقامة الصلاة والسنة فيها، صفحه:152، حديث:907-
[4]... وسائلِ بخشش، صفحه:102-

مجتبیٰ صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خاموشي اختيار کړله، لږ سعت پس حضرت جبرائيلِ امين عَلَیْہِ السَّلَام حاضِر شو او عرض ئې اوکړو: يَا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! عمر ته زما سلام اووائيئ او دوئي ته اووائيئ چې د وړومبي آسمان فرښتې په سجده کښې دي او د قيامت د ورځې پورې به په سجده کښې وي، د دويم آسمان فرښتې په رکوع کښې دي او د قيامت د ورځې پورې به په رکوع کښې وي، د دريم آسمان فرښتې په قيام کښې دي او د قيامت د ورځې پورې په قيام کښې وي- [(1)]

فقيه ابو الليث سمرقندي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ ليکي: الله پاک 7 آسمانونه پيدا کړل، کوم چې د فرښتو نه ډک دي، دا فرښتې لمونځ کوي او د يوې لحظې د پاره هم سستي نه کوي، د هر آسمان د فرښتو عِبادت مختلف دے، د يو آسمان فرښتې په قيام کښې دي، د يو آسمان فرښتې په سجده کښې دي او عرش اوچتوونکې فرښتې د الله پاک په حمد او ثنا کښې مصروفه دي- نور فرمائي: په مونږه مسلمانانو باندې، په مونږه د مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په غلامانو باندې الله پاک کرم اوفرمائيلو چې د فرښتو دا مختلف قِسمه عبادتونه ئې زمونږ په لمونځ کښې راجمع کړل- [(2)]

الله پاک دې مونږ له توفيق راکړي، چې مونږه د فرښتو نقل اوکړو، قيام هم اوکړو، رکوع هم اوکړو، سجدې هم اوکړو او د الله پاک حمد او ثنا هم بيان کړو-

## نن د سجدې شپه ده

د مشهور عاشقِ رسول، تابعي بزرګ حضرت اُوَيس قَرَني رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ معمول مبارک وو، هغوئي چې به کله د ماسخوتن د لمونځ نه فارغ شول نو فرمائيل به ئې: نن د قيام شپه ده، بيا به ئې ټوله شپه په قيام کښې تيروله، په بَله شپه به ئې اوئيل: نن د رکوع شپه ده، بيا به ئې ټوله شپه په رکوع کښې تيروله، په دريمه شپه به ئې فرمائيل: نن د سجدې شپه ده، بيا به ئې په سجده کښې سَر کيښودو او ټوله شپه به ئې په سجده کښې تيروله- [(3)]

مِرے دِل سے دنیا کی چاہت مِٹا کر | کر اُلفت میں اپنی فنا یااِلٰہی!
عبادت میں گزرے مری زندگانی | کرم ہو کرم یاخدا یااِلٰہی!
تُو اپنی وِلایت کی خیرات دیدے | مِرے غوث کا واسطہ یااِلٰہی![(4)]

---

[1]... حلیۃ الاولیاء، جلد:4، صفحہ:307، رقم:5652 ملتقطاً۔
[2]... تنبیہ الغافلین، باب الصلوات الخمس، صفحہ:159 ملتقطاً۔
[3]... تذکرۃ الاولیاء، صفحہ:31۔
[4]... وسائلِ بخشش، صفحہ:105-

## (3): فرښتې او د ساخت لمونځ

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د فرښتو يو ډير ښکلے صِفت دا دے چې هغوئي د ساخت لمونځ هم ادا کوي، هم دغسې د حضرت عبد الله بن زيد رَضِیَ اللّٰهُ عَـنْهُ نه روايت دے، چې رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى الله عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: ما د الله پاک په بارګاه کښې سوال اوکړو چې زما په اُمت باندې د ساخت لمونځ فرض کړي- الله پاک اوفرمائيل: (اے محبوبه صَلَّى الله عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم!) دا د فرښتو لمونځ دے، بس ستاسو په اُمت کښې چې څوک غواړي دا لمونځ دې کوي، څوک چې نه غواړي نه دې کوي (يعني د ساخت لمونځ فرض نه دے، نفل دے)- [1]

الله پاک دې مونږ له هم د فرښتو والا د لمونځ **يعني د ساخت د نفلونو** ادا کولو توفيق را کړي-

## د اِشراق او ساخت په فضيلت باندې 3 حديثونه

د اِشراق او ساخت د نفلونو ادا کولو ډير زيات فضيلتونه دي: **(1)**: سرورِ کائنات، فخرِ موجودات صَلَّى الله عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اشراق د لمونځ فضيلت بيانوي او فرمائي: څوک چې د سحر لمونځ د جَمعې سره ادا کړي او د الله ذِکر کوي تر دې پورې چې لمر پوره راوخيژي بيا 2 رکعته اوکړي نو هغه ته به د پوره حج او عمرې ثواب ميلاويږي- [2] **(2)**: د ابو داؤد شريف په روايت کښې دي: څوک چې د سحر د لمونځ نه د فارغيدو نه پس په خپله مُصلّه (يعني چرته چې ئې لمونځ کړے وي هلته) کښيني تر دې پورې چې د اشراق نفلونه اوکړي صِرف د خير خبرې کوي نو د هغه ګناهونه به بخښلے شي که هغه د سمندر د ځګ نه زيات ولې نه وي- [3] **(3)** د ترمذي شريف په حديثِ پاک کښې دي: چا چې د ساخت 12 رکعتونه ادا کړل، الله پاک به د هغه د پاره په جَنَّت کښې د سرو زرو محل جوړوي- [4]

| | |
|---|---|
| بنادے مجھے نیک نیکوں کا صَدقہ | گناہوں سے ہر دم بچا یاالٰہی! |
| عبادت میں گزرے مری زندگانی | کرم ہو کرم یاخدا یاالٰہی! |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب    صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1] ...حُسْنُ التَّنَبُّه لِمَا وَرَدَ فِي التَّشَبُّه، جلد:1، صفحه:264-
[2] ... ترمذی ، ابواب: السفر ، باب: ماذکر ممایستحب من الجلوس...الخ ، صفحه: 171، حديث :586-
[3] ... ابوداود ، کتاب: الصلاة ، باب صلاة:الضحى ، صفحه:211 ، حديث :1287-
[4] ... ترمذی،کتاب الوتر،باب ماجاء فی صلاة الضحى،صفحه:141،حديث:473-

## (4): فرښتې د لمونځ د پاره راپاڅوي

اے عاشقانِ رَسُول! د فرښتو يو ښکلے صِفت دا هم دے چې فرښتې بنده ګان د لمونځ د پاره راپاڅوي- په مُعجَمِ اَوسط کښې د حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللہ عَنْہ نه روايت دے، چې رسولِ خُدا، احمدِ مجتبیٰ صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: چې کله انسان د شپې د لمونځ د پاره د راپاڅيدو په اراده اوده شي نو ( د هغه د راپاڅيدو په وخت) فرښته راشي او وائي: پاڅه! سحر شو، لمونځ اوکړه او د الله پاک ذِکر اوکړه- بل خوا شيطان وائي: اوس لا ډيره شپه [پاتې] ده، ښه په قلاره پاڅه- که چرې (بنده د فرښتې خبره اومني او) پاڅي او لمونځ اوکړي نو هغه چاق او چمتو شي او که چرې د شيطان خبره اومني او اوده شي نو شيطان د هغه په غوږ کښې ګندګي اوکړي- (1)

د حضرت اِبنِ زِياد رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ په باره کښې نقل دي: هغوئي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ به د هر زيارت په ورځ [د جُمعې په] شپه ويخ پاتې کيدلو او عبادت به ئې کولو، يو ځل هغوئي له خوب ورغلے، هغوئي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ خپلې ښځې محترمې ته اوفرمائيل: ما له خوب راځي، ما په فلانکي وخت راپاڅوه- ښځې محترمې ئې کلکه اِراده اوکړه، هم دغسې هغوئي اوده شول، د شپې چې کله هغوئي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ ته [په کوم وخت] راپاڅيدل وو، هغه وخت د هغوئي په خوب کښې څوک راغلل، هغه [کَس] هغوئي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د تندي نه اونيولو او اوئې وئيل: اے ابنِ زِياده! پاڅه! د الله پاک ذِکر اوکړه! (2)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! مسلمانان د لمونځ د پاره راپاڅول د فرښتو طريقه ده او نوره د فضيلت خبره دا ده چې د سحر د لمونځ د پاره راپاڅول زمونږ د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هم ښکلے سُنَّت دے- اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! د دعوتِ اسلامي عاشقانِ رسول په دې نني وخت کښې هم د دې سُنَّت ژوندي ساتلو سعادت حاصلوي- تاسو هم کوشش کوئ! د سحر د لمونځ د پاره مسلمانان وروڼه راپاڅوئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د دې به ډير برکتونه ميلاويږي-

لگا فجر میں بھائی گھر گھر پہ جا کر | ذرا دل لگا کر صدائے مدینہ

نوټ: د دعوتِ اسلامي په ديني ماحول کښې صدائے مدينه ته اوس فجر کے لیے جگانا [يعني د سحر د لمونځ د پاره راپاڅول] وئيلے شي-

---

1... معجم اوسط، جلد:6، صفحہ:146، حدیث:8293۔
2... حلیۃ الاولیا، جلد:2، صفحہ:277، حدیث:2218۔

## (5) فرښتې د نيکۍ دعوت ورکوي

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! فرښتې د نيکۍ دعوت هم ورکوي- هم دغسې د حضرت ابو درداء رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ نه روايت دے، رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: کله چې لمر راوخيژي نو 2 فرښتې وائي: اے خلقو! د خپل رَبّ (د رضا والا کارونو) په لور وړاندې څئ---!! بے شکه لږ او بقدرِ کفايت مال د هغه مال نه بهتر دے کوم چې په هلاکت کښې اوغورځوي- [1]

حضرت عَمرو بن حزم رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د خپلې توبې واقعه بيانوي او فرمائي: يو ځل زه د کوفې د کهنډراتو په خوا تيريدم، زما په زړه کښې د ګناه خيال راغلے، کله چې زه هغه ګناه ته نزدې کيدم نو د هاتفِ غيبي (يعني د غيبو نه د يوې فرښتې) آواز راغلے:

| | |
|---|---|
| كُلُّ نَفۡسٍۭ بِمَا كَسَبَتۡ رَهِيۡنَةٌ ۝ (پاره:29 ، سورۂ مدثر:38) | ترجَمۂ کنزُ الایمان: هر ځان په خپلو کړو کښې ګانړه دے- |

## د نيکۍ د دعوت ورکولو فضيلت

سُبۡحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! فرښتې د نيکۍ دعوت هم ورکوي- کاش! مونږه هم د نيکۍ دعوت ښه ډير ورکړو- يو ځل حضرت موسیٰ عَلَيۡهِ السَّلَام د الله پاک په بارګاه کښې عرض اوکړو: يَا الله پاکه! څوک چې خپل ورور له د نيکۍ دعوت ورکړي او د ګناه نه ئې منع کړي د هغه جَزا [بدله] څه ده؟ الله پاک ارشاد اوفرمائيلو: زه د هغه د هرې يوې خبرې په بدل کښې د يو کال د عبادت ثواب ليکم او هغه له د دوزخ په سزا ورکولو کښې ما له حيا راځي- [2]

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب      صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د فرښتو يو څو نور صِفتونه

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د فرښتو نور هم ډير صِفتونه دي مثلاً ۞ فرښتې د الله پاک ذِکر ډير زيات

---

[1] ... مسندِ ابن ابی شیبہ، جلد:1، صفحہ:48، حدیث:36ملتقطا-
[2] ... مکاشفۃ القلوب، صفحہ:48-

کوي ۞ فرښتې د ذِکر په محفلونو کښې شرکت کوي [1] ۞ فرښتې د لمونځ کوونکو، روژه نیوونکو، د شپې د تلاوت کوونکو او په اودس کښې د اوده کیدونکو د پاره د بخښنې دُعا کوي ۞ فرښتې د نیکانو خلقو په جنازه کښې شرکت کوي۔ [2]

## فرښتې ذکرِ مصطفٰے کوي

فرښتې ډیر زیات ذِکرِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کوي تر دې پورې چې په یو روایت کښې دي: اِنَّ الْمَلَائِكَةَ تَذْكُرُهٗ فِيْ كُلِّ سَاعَاتِهَا بے شکه فرښتې هره لحظه مصطفٰے جانِ رحمت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم یادوي، د هغوئي ذِکرِ خیر کوي۔ [3]

سُبْحٰنَ الله! کاش! چې مونږه هم دا صِفت خپل کړو، په ناسته، په ولاړه، په ګرځیدو، په خوراک سخاک، د کار کولو په وخت، هر وخت، هر سعت په څه نه څه انداز کښې ذِکرِ مصطفٰے کوؤ۔

اُن کی یادوں میں کھو جایئے! | مصطفٰے، مصطفٰے کیجئے! [4]

او اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي:

جونہ بُھولا ہم غریبوں کو رضا | یاد اس کی اپنی عادت کیجئے! [5]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## فرښتې د عُلماؤ سره محبت کوي

د فرښتو نور صِفتونه واورئ! ۞ فرښتې د عُلمائے دِین سره محبت کوي او د علمائے کرامو سره په دوستئ کښې رغبت ساتي۔ [6]

دلته د غور خبره ده! زمونږه دوستان څوک دي؟ مونږه د چا سره کښینو پاڅو؟ آیا مونږه هم د عالِمانو سره

---

1 ...حُسْنُ التَّنَبُّه لِمَا وَرَدَ فِي التَّشَبُّه، ومنها: محبة مجالس الذكر...الخ، جلد:1، صفحه:228۔
2 ... حُسْنُ التَّنَبُّه لِمَا وَرَدَ فِي التَّشَبُّه، و منها: حضور عبد المؤمن، جلد:1، صفحه:467۔
3 ...حُسْنُ التَّنَبُّه لِمَا وَرَدَ فِي التَّشَبُّه، ومنها: الاكثار من ذكره...الخ، جلد:1، صفحه:376۔
4 ... وسائلِ بخشش، صفحه:506۔
5 ... حدائقِ بخشش، صفحه:198۔
6 ... حلية الاولياء، جلد:1، صفحه:424، حديث:1219۔

دوستي کوؤ؟- آیا زمونږ په موبائل کښې د چا عاشقِ رسول، عالِمِ دین، مفتئ اسلام نمبر شته؟ کیدے شي چې د زیاترو جواب په نه کښې راشي- فرښتې د علمائے کرامو سره دوستي کوي، مونږ له هم پکار دي چې د علمائے کرامو سره دوستي اوکړو، د عاشقانِ رسول علمائے کرامو سره تعلقات زیات کړو، چې د هغوئي سره دوستي اوکړو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! دنیا به هم بهتره شي، عِلمِ دین به هم زده کړو، د ګناهونو نه به هم بچ شو او که چرې الله پاک اوغوښتل نو د قیامت په ورځ به هم بیړئ پار شي-

هم کو اے عطّار سُنّی عالموں سے پیار ہے | اِنْ شَآءَ اللّٰہ ! دو جہاں میں اپنا بیڑا پار ہے

## فرښتې په خپل مینځ کښې ورونړه ورونړه دي

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** ۞ فرښتې همیشه رښتیا وائي، کله هم دروغ نه وائي ۞ فرښتې په خپل مینځ کښې جګړې نه کوي، حسد، کینه، بغض نه ساتي بلکه ټولې فرښتې په خپل مینځ کښې د ورونړو په شان اوسیږي، آؤ جي! د الله پاک خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صحابهٔ کرامو علیهمُ الرِّضوَان په مینځ کښې وروروِلي جوړه کړه او اوئې فرمائیل: وَمُؤَاخٍ بَيْنَكُمْ كَمَا آخَىٰ اللّٰهُ بَيْنَ الْمَلَائِكَةِ زه ستاسو په مینځ کښې داسې وروروِلي جوړووم، **لکه څنګه چې فرښتې الله پاک ورونړه ورونړه جوړې کړې دي-** (1)

اوس خو دلته سَکه ورونړه هم په خپل مینځ کښې ورونړه ورونړه نه پاتې کیږي، جنګ، جګړې، بغض، کینه، حسد، د یو بَل نه سوزیدل، د پیسو جنګ، د اَنا جنګ، د جائیداد جګړې، په وړو وړو خبرو باندې مونږ د یو بَل سره جګړې کوؤ، الله پاک دې مونږه د جنګ جګړو نه بچ کړي- مونږه مسلمانان یو او مسلمانان په خپل مینځ کښې ورونړه ورونړه دي، الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ اِخْوَةٌ<br>(پاره:26، سورهٔ حجرات:10) | ترجَمهٔ کنزُ العرفان: صرف مسلمانان ورونړه ورونړه دي- |

څکه مونږ له پکار دي چې مونږه د فرښتو والا صِفت خپل کړو، د جنګ جګړو نه ځان اوساتو او ورونړه ورونړه شو او د یو بَل سره په مینه او محبت سره اوسیږو-

کوئی جھاڑ دے تب بھی نرمی برتنا | کئے جانا صَبر اَجر اِس میں بڑا ہے (2)

---

[1] ... معجم کبیر، جلد:3، صفحہ:330، حدیث:5001-
[2] ... وسائلِ بخشش، صفحہ:455-

## فرښتې د اولیائے کرامو سره محبت کوي

د فرښتو یو څو نور صفتونه واورئ! فرښتې د نیکانو خلقو سره، د اولیائے کرامو سره محبت کوي، آؤ جي! په قرآنِ کریم کښې دي، فرښتې نیکانو خلقو ته وائي:

| | |
|---|---|
| نَحْنُ اَوْلِيٰٓؤُكُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَ فِي الْاٰخِرَةِ ۚ (پاره:24، سورۂ حم سجده:31) | ترجَمۂ کنزُ الایمان: مونږه ستاسو دوستان یو د دنیا په ژوند کښې او په آخِرت کښې- |

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! زمونږه هم د نیکانو خلقو سره، د اولیائے کرامو سره محبت دے ❁ د هر عاشقِ رسول سره محبت دے ❁ مونږه د غوثِ پاک سره هم محبت کوؤ ❁ د خواجه اجمیر سره هم محبت کوؤ ❁ د داتا حُضُور سره هم محبت کوؤ ❁ د بابا فرید سره هم محبت کوؤ ❁ د شاه رُکنِ عالم سره هم محبت کوؤ ❁ د سلطان باهو سره هم محبت کوؤ ❁ د الله پاک فضل دے چې مونږه د اعلیٰ حضرت سره هم محبت دے ❁ د ټولو اولیائے کرامو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم سره مو محبت دے او دا محبت به ولې نه وي چې فرښتې هم د اولیائے کرامو سره محبت کوي او اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! زمونږه خوږ خوږ الله پاک هم د اولیائے کرامو سره محبت کوي-

ہم کو سارے اولیا سے پیار ہے | اِنْ شَآءَ اللہ اپنا بیڑا پار ہے

## فرښتې د الله نه د ویریدلو والا دي

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! ❁ د فرښتو په صِفتونو کښې دي چې فرښتې عمامې [پټکي] په سر کوي-[1] په غزوۂ بدر کښې د مسلمانانو د مرستې د پاره فرښتو پټکي په سر کړل او نازلې شوې-[2] مونږ ته هم د عمامې [پټکي] تاج په سر کول پکار دي ❁ فرښتې د نیکانو صالحانو مسلمانانو مریضانو تپوس هم کوي[3] مونږ له هم د مسلمانانو تپوس کول پکار دي ❁ فرښتې حیا والا دي[4] مونږ له هم حیاداره جوړیدل پکار دي ❁ فرښتې د الله پاک نه د ویریدلو والا دي[5] فرښتې د الله پاک د پټ تدبیر نه ویریږي او د الله پاک د پټ تدبیر نه د

---

1... معجم کبیر، جلد:6، صفحہ:222، حدیث:13237-
2... سبل الھدی والرشاد، جماع ابواب المغازی، الباب السابع فی بیان غزوۃ بدر، جلد:4، صفحہ:44-
3... شعب الایمان، جلد:3، صفحہ:84، حدیث:2953-
4... حُسْنُ التَّنَبُّه لِمَا وَرَدَ فِي التَّشَبُّه، و منھا: الحیاء و غض البصر، جلد:1، صفحہ:471-
5... حُسْنُ التَّنَبُّه لِمَا وَرَدَ فِي التَّشَبُّه، و منھا: شدۃ الخوف من اللہ... الخ، جلد:1، صفحہ:478-

ويريدلو سره اوښکې هم توئيوي، کاش! چې زمونږه هم د الله پاک په ويره کښې ژړيدل، د سترګو نه اوښکې توئيدل نصيب شي-

آمِيۡن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

## په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: هفته واره اجتماع

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د فرښته صِفت جوړيدو، د ګناهونو نه د بچ کيدو او په نيکو باندې د استقامت موندلو د پاره د عاشقانِ رسول د ديني تحريک دعوتِ اسلامي د ديني ماحول لمن اونيسئ او په 12 ديني کارونو کښې هم ښه پوره برخه واخلئ! د دې په برکت به اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡکَرِيۡم! د دين او دنيا بے شميره خيرونه نصيب شي- په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: هفته واره اجتماع هم ده- راځئ په هفته واره اجتماع کښې په پابندئ سره د شرکت کولو ذهن جوړولو د پاره يو مدني سپرلے اورو:

## د ګناهونو نه په ډک ژوند کښې مدني انقلاب

د کراچئ (پاکستان) د يو اسلامي ورور بيان دے: د دعوتِ اسلامي ديني ماحول ته د راتلو نه مخکښې ما د ګناهونو نه ډک ژوند تيرولو، د دُنيا په مزو کښې مصروف اوسيدل زما معمول وو، د خرابو دوستانو صحبت زه خراب کړے ووم، د دوستانو سره به په شريکه ټوله شپه د ګناهونو نه ډکه سلسله روانه وه، يو ځل يو اسلامي ورور ماته د ماښام په وخت د لمونځ کولو دعوت راکړو، پته نه لګي چې د هغه په دعوت کښې څه اثر وو چې زه د هغوئي سره د جُمات په لور روان شوم، د ماښام لمونځ مې اوکړو، د لمونځ نه پس يو اسلامي ورور د **فيضانِ سُنَّت** نه درس ورکړو، د درس نه فوراً پس اسلامي ورونړو په هفته واره د سُنَّتو نه په ډکه اجتماع کښې د شرکت کولو تياري شروع کړه- يو اسلامي ورور ماله هم په **هفته واره اجتماع** کښې د شرکت کولو ترغيب راکړو، د هغه انداز دومره ښکلے وو چې زه فوراً په اجتماع کښې د شرکت کولو د پاره تيار شوم، بيا ډير زر د اسلامي ورونړو سره په شريکه عالمي مدني مرکز فيضانِ مدينه ته اورسيدم، هلته مې د سُنَّتو نه ډک بيان واوريدو، په ذِکرُ الله کښې مصروفه شوم، بيا د ژړا نه ډکه دُعا اوکړے شوه- اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ! د دعوتِ اسلامي د **هفته وارې اجتماع** او د عاشقانِ رسول د صحبت په ما باندې داسې اَثر اوشو چې ما د دُعا په وخت په ژړا ژړا د خپلو ګناهونو نه توبه کړه او بيا د پاره مې په نيکو کښې د ژوند تيرولو پوخ

نیت اوکړو، په ما باندې خوندونه راوریدل، د اجتماع نه د واپس کیدو نه پس ما د لمونځونو پابندي شروع کړه او د نیکو نه په ډک ژوند تیرولو کښې مصروف شوم۔

اسی ماحول نے ادنیٰ کو اعلیٰ کر دیا دیکھو! | اندھیرا ہی اندھیرا تھا اُجالا کر دیا دیکھو!

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## دارُ الاِفتّاء اهلسُنَّت ایپلي کیشن

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** اَلْحَمْدُ لِلّٰہ! دعوتِ اسلامي د عِلمِ دین په فیضان عام کولو کښې مصروف دے، د دعوت اسلامي ***I.T*** ډیپارټمنټ یو موبائل ایپلي کیشن جاري کړے دے، د کوم نوم چې دے: ***Darul Ifta Ahlesunnat*** (دار الافتاء اهلسنت)۔

په دې ایپلي کیشن کښې به تاسو ته میلاویږي: په درځنو د مذهبي او معاشرتي پوښتنو لیکلي فتاویٰ ❁ د عقیدو په باره کښې حکمونه ❁ د قرآن او حدیث په باره کښې حکمونه ❁ د اوداسه، غسل او د ناپاکئ حکمونه ❁ د لمونځ په باره کښې مسئلې ❁ د مَړي په باره کښې مسئلې ❁ د دعوتِ اسلامي د مفتیانو صاحبانو اهم تربیتي او معلوماتي ویډیوکلپس او بیانونه ❁ په معاشرتي او مذهبي اړخونو باندې د لار ښودنې مختلف آرټیکلز او کتابونه ❁ د مفتیانو صاحبانو په مختلفو علمي، تربیتي او شرعي معلوماتو مشتملې سلسلې ❁ تجارت کورس، د فرض علمونو کورس ❁ او ډیر څه۔ دا ایپلي کیشن په خپل موبائل کښې انسټال کړئ! پخپله ترې هم فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ!

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** بیان د ختمولو په لور بوځم او د سُنّت د فضیلت او د ژوند د څینو آدابو بیانولو سَعَادت حاصلووم۔ د رِسالت تاجدار، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِی فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّت سره محبت اوکړو هغوئي زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغوئي به په جنّت کښې زما سره وي۔ [1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

[1]... تاریخ دمشق، جلد:9، صفحہ:343۔

## د نوکانو کټ کولو سُنَّت او آداب

**د آخِري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک:** خپل نوکان کټ کوئ ځکه چې په غټ کړے شوؤ نوکانو باندې شيطان کښيني- (1)

اے عاشقانِ رَسُول! ۞ د جُمعې په ورځ نوکان کټ کول مستحب عمل دے، آؤ که چرې ډير غټ شوي وي نو د جُمعې انتظار مه کوئ ۞ په روايتونو کښې چې د لاسونو د نوکانو کټ کولو کومه طريقه بيان شوې ده د هغې خُلاصه ستاسو په خِدمت کښې وړاندې کولے شي: وړومبے د ښي لاس د شهادت د ګوتې نه شروع کړئ او په ترتيب سره د قچې ګوتې سره سره نوکان کټ کړئ خو غټه ګوته پرېږدئ، اوس د ګَس [کينړ] لاس د قچې ګوتې نه شروع کړئ او په ترتيب سره د غټې ګوتې د نوک سره سره نوکان کټ کړئ، اوس په آخِره کښې د ښي لاس د غټې ګوتې نوک کټ کړئ ۞ د خپو د ګوتو د نوکانو کټ کولو ترتيب په روايت کښې نشته، بهتره دا ده چې د ښۍ خپې د قچې ګوتې نه شروع اوکړئ او په ترتيب سره د غټې ګوتې د نوک سره سره نوکان کټ کړئ بيا د ګسې خپې د غټې ګوتې نه شروع اوکړئ او د قچې ګوتې سره سره نوکان کټ کړئ ۞ د غُسل فرض کيدو په شکل کښې نوکان کټ کول مکروهِ (تنزيهي) دي ۞ په غاښونو باندې نوکان کټ کول مکروهِ (تنزيهي) دي او د دې نه د برَګي (يعني په بدن باندې د سپينو ټاکو) راختلو د مرض انديښنه ده ۞ د نوکانو کټ کولو نه پس دا ښخ کړئ او که چرې دا اوغورځوئ نو بيا پکښې هم څه باک نشته ۞ کټ کړے شوي نوکان په بيت الخلا يا غسل خانه کښې غورځول مکروهِ (تنزيهي) دي ځکه چې د دې نه بيماري پيدا کيږي ۞ د شروع [چارشنبې] په ورځ نوکان کټ کول نه دي پکار ځکه چې د برَګي (يعني په بدن باندې د سپينو ټاکو) راختلو انديښنه ده البته که چرې د 39 ورځو نه، نه وي کټ کړے شوي او اوس د شروع [چارشنبې] ورځ 40تمه ورځ ده که چرې نن کټ نکړے شو نو د 40 ورځو نه به زياتې اوشي او سبا به 41تمه ورځ شروع شي نو بيا به په هغه باندې واجب وي چې په ننۍ ورځ ئې کټ کړي ځکه چې د 40 ورځو نه زيات نوکان ساتل جائز نه دي او دا مکروهِ تحريمي دي ۞ غټ نوکان د شيطان د ناستې ځائے دے يعني شيطان په دې باندې کښيني ۞ د شپې په نوکانو کټ کولو کښې هيڅ باک نشته- (2)

---

1...مسند فردوس، جلد:3، صفحہ:205، حديث:4579-
2...550 سنتيں اور آداب، صفحہ:50-51-

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه 16 حصې او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 مخونو رساله **550 سنت او آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنت زده کولو يوه ذريعه د دعوتِ اسلامي قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے-

الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

آمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّمَ.

مجھ کو جذبہ دے سفر کرتا رہوں پرَوَردگار | سنّتوں کی تربیت کے قافِلے میں بار بار
جو بھی شیدائی ہے مدنی قافِلوں کا یاخدا! | دوجہاں میں اُس کا بیڑا پار فرما یاخدا![1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

[1]...وسائل بخشش، صفحہ:635ملتقطاً۔

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډكه اجتماع كښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانِ دينو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنۍ شپه باندے) دا دُرُود شريف پابندۍ سره كم ازكم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت كښې د سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار كوي او قَبْر كښې د داخليدو وخت كښې هُم، تر دې چې سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر كښې د خپل رَحمت نه ډكو لاسو باندې كوزوي.[1] راځۍ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

### ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِىَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځۍ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

### ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[2] راځۍ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

1... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسۃ والخمسون، ص ۱۵۱ ملخصًا
2... القول البدیع، الباب الثانی، ص ۲۷۷

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ
صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[1] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِىَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِىَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[3] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِىَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[4] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

---

1... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص ۱۴۹

2... القول البديع، الباب الاول، ص ۱۲۵

3... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر والدعاء، ۲/ ۳۲۹، حديث: ۳۰

4... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب في كيفية الصلاة...الخ، ۱۰/ ۲۵۴، حديث: ۱۷۳۰۵

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[1] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شریکه اووائیو.

**لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم**

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

1... تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/ ۱۵۵، حدیث:۴۴۱۵